# وزره په ریا نه می انځور دی ګلاب



[illegible]

لومړی شعري ټولګه

کال ۱۳۷۷

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||

د ټولګې نوم : د زړه پر پاڼه مې انځور دې ګلاب

شاعر : اجمل اند

لومړی چاپ : ۱۳۷۷ هجري لمریز

کمپوز : په خپله شاعر

د لومړي چاپ تیراژ : ۵۰۰ ټوکه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ:

خپل جګرې ځپلي او ځورېدلي هېواد ګران افغانستان او ټولو هغو بې وطنه مساپرو ته، چې وطن ته د تلو هیله د زړه په وینه په خپلو زړونو کې ژوندۍ ساتي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاعر يادښت

قدرمنو لوستونکيو: ستا سو په وړاندې زما دشعرونو لومړی ټولګه ده ، دا ټولګه د اوس نه اووه کاله دمخه په ډېرو ترينګلو شيبو کې چاپ شوی وه . او په کې زما ډېر هغه شعرونه دي چې ما په خپل کلې کې ليکلي دي.

هغه مهال چې موږ د ننګرهار د فرهنګي يون په نوم يو وړ بنډار درلود چې تکړه ليکوال اوشاعر استاد لاپاچا ازمون ددې فرهنګي يون مشر وو، دا د هماغه لورينه وه چې دا ټولګه يې هغه مهال چاپ کړه ،که څه هم دهغه وخت له امکاناتو سره يې چاپ بدوکی نه و خودوستانو يې بيا بيا د چاپې ستونزو يادونه کوله ، بل دا شعري ټولګه هغ وخت په کم شمير کې هم چاپ شوې وه نو ژر تری تمه شوه . دا مهال چې ما د کومې نسخې په مټ دا بيا ټاپپوله دهغې نسخې هم ځينې پاڼې ورکې دي.

په هر حال ، له دې امله چې دا ټولګه ماته تر خپلې بلې هرې ليکنې ګرانه ده نو د خونديتوب په موخه يې د ټول افغان ويب پاڼې ته سپارم ، هم به خوندي شي هم به يې که څوک وغواړي ولوستلی شي.

د ټول افغان د چلونکي شيرزاد کاموال ورور دې کور ودان وي چې په خپله خواری يې د پښتو ژبې د چوپړ په موخه په دې وخت کې داسې ډېرې اسنتياوې موږ ټولو ته چمتو کړي.

خداې دې يې په ګوتو برکت کړي

په مينه

اجمل اند

۲۰۰۵ جون ٤ کابل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اند او د زړه د پاڼې انځور يې

يو سترړي اند ته چا د کلي لويه لار څارله

يو لوپټه نن په دې پورې بلې و ځنډيده

★★★★★

رينښي رينښي ټيکري نه به دې کومه پيڅکه نيسي

ورواچوه لاسونه ګرانې اند اوبو اخيســـــــــــــتې

نه پوهيږم چې خبره له کومه ځايه راوخلم اوددې ټولګې په باب څنګه دزړه غوټه وسپړم ، خدای شته چې ددې ټولګې لوستو او د شاعر دومره ژر پرمختګ يې دومره هک پک کړې يم چې يوه خبره له بلې رادمخه کيږي . ددې ټولګې په لوستو کې مې مينه ،عاطفه، صميميت،بيوسي ،عاجزي د ښکلا په جامه کې په يو بلا انځورونو اويو عالم نوښت کې ولوستل. ددې ترڅنګ مې چې کله د شاعر پرعمر او د شاعرۍ پيل ته پام شو نو بيا به له ډېرې خوشالۍ په جامو کې نه ځايېدم او داهيلې به مې په زړه کې راوټوکيدې چې که د پوهنځي اوښوونځي دروازې مو تړلي دي ،خو دځوان ملي او اسلامي فکر زرينې پلوشې لا هم په کليو او باندېو کې غزونې کوي چې د خپلې فرهنګي ګاندې په باب سوچ وکړي.

اوس لاهم د وطن په ګوټ ګوټ کې له ډېرو ستونزو سره سره يو شمير غوټۍ په غوړيدو دي او داسې څه په خپلو ورېمو کې رانغاړي چې د زړو په کروندو کې يې راټوکوي.

له ښه مرغه پښتو شعر په دې ورستيو دوه لسيزو کې ډېرې تاندې څانګې و غوړولې او ډېر سترې يې دمه سيوري ته کړل ، پښتو شعر له څو کلونو راهيسې اوس ددې جوګه شو چې خپل شاعرانه منزل ومومي او د لنډيو د لنډې ګنډې او انځوريزې وينا الهام واخلي . ددغو شاعرانو بهير ورځ په ورځ په زياتيدو دي ځکه (( ډېرې غوټۍ په غوړيدو ښکاري )) چې ددې هيلو څخه يو همدا ټولګه ده . ددې ټولګې د خيالونو شنه لمن ده ، چې د نښترو شور او د ((بزرګې څوکې)) د زرکو اتڼ د ذهن پردې په ګډا راولي ،دا دهغو ارمانونو دنيا ده چې سپيڅلتيا ،ښکلا،انسانيت او حيا د ژوند ګاڼه بولي او د شاعر اند لوستنه او سپړنه د لوستونکي په ذهن کې بلا هيلي راټوکوي ، ځکه شاعر يې لا ډېر تاند دی او په مخکې يې لا ډېرې هېلې سترګکونه وهي ارمان فکر او انځوريز خيال يې دا په ډاګه کوي چې دې به ((که مرګي پرېښود دکابل منډه به شينه )).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چې نن سبا د غزل میدان ګرم دی او په ریښتیا هم غزلیزې شاعرۍ له بلا نوښتونو ډک انځورونه په خپله غیږه کې را نغښتي دي نو مخکې پرتې ټولګې هم په خپلو پاڼو کې له نویو انځورونو ډکې غزلې رانغښتي دي ، ځکه ددغې ټولګې د شاعر شاعري او شاعرانه مزاج یو ډول ځانګرې مستي او رنګ لري . اند د فکرو خیال انځورګر دی . په ډېرو سادو ویینو او خوږه ژبه داسې ښکلې او رنګینې خبرې له خولې راباسي چې خپله راتلونکې د لوستونکي او اوریدونکي په ذهن کې نوره هم روښانه انځوروي . داند تخیل او خپله د اند اند دواړه په ډېره ښکلې جامه کې ځلیږي او دخپل لیک ژبې ته یې د همدې ار ( اصل ) له مخې د تلپاتینې هار ور په غاړه کړې دی.

چا ګوزار راوکړ د چینې اوبه یې خړې کړې

پورته لیونۍ شوه خدازده څه انتظار ونیوه

★★

ستا د سراب سراب ښکلا جهنمي دښتې ته

یو تنکۍ هیله په غیږ کې جل وهلې وړمه

په دې بیت کې څومره رنګین او ښکلې انځور په څومره ساده ویینو او روانه ژبه کې نغښتې دی ، یاد شوي دواړه بیتونه ژوندي انځورونه لري چې یو ډول ښکلا صمیمیت ،مینه او عاطفه په کې ځلیږي او یوه ډېره ښکلې تابلو جوړوي.

د اند پر تاند شاعرانه ذهن هم لکه د نورو شاعرانو د حالاتو ګرد خپور دی ، دې که هرڅومر کوښښ وکړي چې یو انځور ټول له خندا بشپړ کړي خو بیا هم پر دې نه شي بریالۍ کیدای ځکه اند د خپل چاپیریال د انځورونو مفسر او ژباړن دی ، نو دد چاپیر چل لا تر دې دمه د لمبو په سیند کې لامبي او دخپلې ګاندې په تمه د اوښکو او وینو امیلونه پېي.

نواند څرنګه چې دیو حساس او تاند ذهن خاوند دی تر بل هر چا ځکه دی زیات کړیږي چې دده په سینه کې دعاطفې ډک یو غږ پټ دی . دده په انځوریز اند وخیال د یو لړ ډېرو ناوړو دودونو سیورې هم راخپور شوی دی دا ځکه چې اجمل په ولس کې زوکړې دی او اوس هم په خپل کلي کې اوسیږي نو تر بل هرچا زیات دې دولس ژبه ده.

که څه هم د ځاني ژوند له مخې به اجمل په ولس کې له ډېرو ستونزو سره مخ وي خو د هنري ژوند له مخې به دې لومړی شاعر وي ، چې په طبیعي ډول یو زده کړې شاعر د ولس د ارمانونو او دودونو استازي په هنري انځورونو کې ټولنې ته وړاندې کړي ځکه لا تر دې دمه د ولس د ارمانونو غوښتنو،دودونو او نادودو ژباړن یوازې ولسي شاعرو چې هر څه به یې په ښکاره ژبه په تشو موزونو خبرو کې نغښتل ، خو د اجمل د بري ټکی دادی چې دې د ولس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي د طبيعي مناظرو رنګ ، ګودرونه ، له منګيو سره په خندا خبري ، ماښامونه ، مازيګري ، کليواله مينه، کليوالې دودېزې انګيرنې او......په ډېره ښکلې هنري روانه ژبه او ډېرو ساده وېينو کې نغاړي.

ده د يوې پيغلې د ژوند عکاسي کړې ده . دې د هغې پيغلې د ژوند ژباړن دی چې د ناوړو دودونو په جال کې ښکيل ده او په بدو کې يې د ژوند خبره کيږي ، دې د همدې پيغلې اوښکې کله ناکله د خپل ټاټوبي سره پرتله کوي او دهغې معصوميت او سپيڅلي ځيره انځوروي.

اند پر دې پوی دی چې د نړۍ د زياترو شهکارونو سوژې له ولسه اخيستل شوې دي ، نو خدای دې دده تاند ذهن ته برې ورکړي چې دې هم له ولسه ډېر څه رابرسېره کړي څکه دې تيار د شهکارونو د سوژو په غېږه کې ژوند تيروي ، نو همدې ار ته يې بايد د فکر او خيال نيلي غزېدلی وي او د مرغلرو له اباسينه تش را ونه وځي.

زه خو وايم چې اجمل ښنګه له شاعرانو سره په يو لنډ بيلتون کې دومره ژر داسې څه راوښکل چې د خپلې روښانې ګاندې زيرې يې په نورو وکړ نو دا جوتوي چې د وطن غرونه، سندونه او شنه غېږه بې هيڅه نه دي.

اجمل د يو ښه حساس ذهن او لوړ احساس خاوند دی د هغه په زړه کې د عاطفې چينې خوټيږي نو ځکه خو د مينې غيږ ته په اهنګين غږ کې د جنګ له غېږې پنا وړي او په يو ډول ځانګړې اند په ډېره روانه اوښکلې ژبه يې پيلوي

غېږ له دې بيا ځولۍ ځولۍ د رباب ترنګه راغلم

لکه افغان زلمې همدا ساعت له جنګه راغلــــــــــم

تر پايه

او کله چې بيا د رباب غېږې له راشي او د مېنې په نغمو پيل وکړي نو د کلي په ښکاري هم دا غږ کوي

لينده مه کشکوه سترګې دې ړندې شه!

دا د کور کلي کوتره د ښکار نه ده

خو بيا هم اجمل چې هر څومره ولټوو د کلي له انځورونو ډېر بلې خوا ته نه ځي او د خپل بري ټکی په دی کې نغاړي چې د خپلو زده کړو اغېز او ولسي ژوند يې سره ګډ کړي او د دواړونه يې طبيعي انځورونه د ذهن په تانده او حساسه پرده کښلي دي او په ډېره ښکلې، ساده او روانه ژبه کې يې د ا طبيعي انځورونه دا سې په اهنګين غږ له خولې راوځي:

خلکو ويل د اموخته کوترو ښکار ګنا ده

خو چا زموږ د بغدادي کوتر وبال واخيسته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خندا پیغله مې په شونډو هسې نه ژړیږي

وچو پاړو یې د ټوپک په زور دستمال واخیسته

★★★

د ټوپک ډزې د چاساندو غېږ کې ونیولې

له پورې کلي ورا رانغله ډولۍ و ځنډیده

سرې یې د اوښ د غاړې زنګ کړځه کې کړنګ و نه کړ

ښایي رانغله په ایلبند کې کوچۍ وځنډیده

★★★

د خندا ځل مې پاڼې پاڼې شي په وینو شونډو

لکه تنکي کوکنار ګلونو کې ږلۍ ووهي

مه شلوه مراندې مې د زړه د خیمې یه جانانه!

نه چې ډېوه مې د ارمان د غم سیلۍ ووهي

شپونکی شهید دی ،توله ماته، نغمواور اخیستی

د رغو زرکو ته به څوک خوږه شپیلۍ ووهي

★★★

اوس هم شمله د هندوکش هماسې دنګه ښکاري

خو پښتنه کېږدۍ یې غېږ کې ړنګه بنګه ښکاري

د چا غرور چې تاویزو او کوډونه ماتوه

هغه د شل منګیو میره اوس ملنګه ښکاري

خړه شمله د سور سالو تر څنګه وبرېښیده

وایه اجمله چې اوس زیږ مازیګر څنګه ښکاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



★★★

نن د کوم ښکلي ګلالي زلمي د مرګ په پور کې

يو ګلالۍ پيغله زموږ له کلي بدو کې وړي

خدايه له هسکه زموږ برخه شول د جبر کاڼي

لکه ږلۍ رانه تنکي غنم په وږو کې وړي

د اجمل د همدغو بيتونو ښکلي انځورونه سړی کليو او باندېو ته بيايي ، له همدې بيتونو دا څرګنديږي چې د هغه انځوريزه وينا ورځ په ورځ په پخيدو ده او د نوښت پړاوونه وهي.

يو بل د نوښت ټکی چې دده په غزلونو کې تر سترګو کيږي ، هغه دادی چې دده د غزلو په تنسته کې د بيتونو يو ډول تسلسل او هماهنګي پرته ده هره غزل يې په ډيره طبيعي بڼه پيل او پای ته رسيږي ، هيڅ ډول تکلف او تصنع په کې نه ښکاري ، د غزلونو په لنډوالي او اوږدوالي پسې نه دی ګرځيدلای ، په هر ځای کې يې چې د زړه موزون غږ د خيال او فکر له زوره لويدلی دی او د خپل ذهن انځورونه يې کښلي دي نو بيا يې په دې پسې سر نه دی خوږ کړی چې غزل يې ولې له پنځو بيتونو کم شو ؟ يا ولې اوږد نه شو ؟ بلکې له څومروالي نه يې څرنګوالي ته ډېر پام کړی دی ياني د دوديز تعريف ښکار شوی نه دی ، يوازې په همدې رمز يې ذهن او زړه پوه دی چې شعر د فکروخيال يو اهنګين عاطفي تړون دی اوبس:

غېږ له دې بيا ځولۍ ځولۍ د رباب ترنګه راغلم

لکه افغان زلمې همدا ساعت له جنګه راغلـــــــــم

تر پايه

خور مې که سينه باندې نيازبين مې کړه

ستا د دنګې غاړې لونګين مې کــــــــــړه

تر پايه

د خندا پيغله مې له شونډو ړنګه بنګه پريوځي

لکه چې زرکه تکه سره د باز له چنګه پريوزي

تر پايه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یاپه دې مطلع پیل شوی غزل:

کېه ترې د ډېرو ښکلو لاړه شه

شاړه شه دا پورې کوڅه شاړه شه

تر پایه

د اجمل اند په غزلیزه انځوریزه شاعرۍ کې یو ډول لطف ، نزاکت او ظرافت څپې وهي یو ډول ارمان په کې تر سترګو کیږي او کله ناکله دوه داسې انځورونه مخامخ کړي چې په لومړي انځور کې د عاطفې او معصومیت رنګ ځاي، خو په دویم انځور کې بیا داسې تنده انځوروي چې د هغه لپاره بیا یوازی همدا د معصومیت او عاطفي رنګ ژوند ګرځي . په ډېرو شعرونو کې یې دا تر سترګو کیږي چې شاعر خپلې اوښکې تویوي او بیا په هغې د مېنې فصل ټوکوي . اند کمال کوي په اوښکو کې د یو چا ژوندویني او د هغه په انځور کې د سپیرو شونډو پترې لمبوي نو ځکه خو د دعا په لپه کې د اغوښتنه او زارۍ کوي:

په اننګو دې اوښکې خدای لپاره مه وچوه

یو لیونی پرې د سپیرو شونډو پترې لمبوي

ددې ټولو خبرو پایله له دې اخلو چې د اجمل په تاند او حساس شاعرانه ذهن د سپین غر د ((بزرګې څوکې )) د نښترو نڅا او د مرغانو د رنګینو غړونو سیوری ان له کوچنیوالي خپور دی او اوس هم په دې رنکینیو کې لامبي نو دده شاعرانه مزاج به څنګه څپې نه وهي او دده د ذهن له ډکه جامه به دا خواږه نه راڅاڅي:

جوړ د نښترو په تالا ځوانۍ یې اوښکې توی کړې

چې د بزرګې څوکې سر کې سپوږمۍ و ځنډیده

طبیعې او اره خبره ده چې دی به شاعر کیده او شاعرانه مزاج به یې هم په غزل کې غزونې کولې ځکه د داسې شنو درو او غرنیو سیمو پر ذهنونو خدای پاک د شعر په دونیا کې د غزل مستي لوروي.

نو پر ده هم د خپل ټاټوبي اغېز پرېوتي او دغزل رنګین هار یې وریه غاړه کړې دي.

زه خپلې خبرې را لنډوم او دده شاعرانه مزاج ته مبارکي وایم ، که څه هم چې دده شعرونه به نیمګړتیا هم ولري او هره وینا له نیګرتیا خالي نه وي ، خو ما دده د تاند شاعرانه او ځاني ژوند له یونه دا پایله واخیسته چې دده په دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاند ګام او يون کې د پرمختګ څپې ډېرې نغښتي دي او پر نيمګرتياوو يې سيوری هم دروند دی نو ځکه د هغو راسپړنه اويادونه راته بي ضرورته وبرېښېده . نو په تلو تلو کې يو وار بيا ده ته ددې ټولګې د خپراوي له امله مبارکي وايم او د خدای له لوی درباره له تاسې درنو لوستونکيو سره يو ځای ده ته د يو اوږد عمر او شاعرانه ژوند غوښتنه کوم دده د شاعرانه ژوند لپاره دا دعا کوو چې:

خدايه! ګورګورې تورې مه کړې

جينکۍ سرې شونډې وروړې تورې راوړينه

امـــــــــــــين

لال پـــــــا چـــــا ازمون

جلال کوټ ، شامـــــــــــــــــردان مېنه

۱۳۷۷ لمريز د سلواغې ۱۵ مه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نم

نم د ګرېوان کلي کې بیا واړول

د غم کاروان کلي کې بیا واړول

بیا ناوکۍ په سرو ډولیو غواړي

ښامار دې وران کلي کې بیا واړول

بیا د سرو ګلو جنازې ووتې

د اور توپان کلي کې بیا واړول

زړه به مې بیا بڼو کې زوړند ګرځي

ظالم جانان کلي کې بیا واړول

بیا په کې توره بلا کوکې وهي

شپو دارمان کلي کې بیا واړول

۱۳۷٤ ل

## ژبه

چې مې سندرې تږې تږې وي تل پرخه غواړي

ما یاده کړې ده اشنا له سره غاټوله ژبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه بلبل د ښکلي ګل ښایست ټپه ټپه کړ

ما غزل نه کړه ستا ښکلا په دغه ټوله ژبه

که پښتنې سندرې وايي د زلمو دېره کې

جانانه ! واخله له رباب او درانه ډوله ژبه

چې مې لاسونو زړه او سترګو کې لنډۍ ټوکيږي

څنګه به اخلي څوک له ما نه سندربوله ژبـــــــــــــه

وايم چې داسې تنده ماته کړمه ستا په شونډو

لکه د ميو ترۍ تاوو کړي له کنډوله ژبه

## غاټول

ستا حسن ته د خيال په منارو پورته کيدم

لمبو ته د سپرلي په تنابو پورته کيدم

خندل مې پام مې نه و خپل د څو شيبو ژوندون ته

غاټول غوندې له خاورو په ورو ورو پورته کيدم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم وم چې ښکلا او د سوز ساز مې پېژانده

سهار به د بلبل په ترانو پورته کیدم

رنګونه ،بهارونه ، الفتونه راکې نغښتي

یو خال وم د ښایست په اننګو پورته کیدم

هغه ناز مې اوس چیرته چې مې لمر نه ځان ساته

لیدم خو دې اشنا چې په لمبو پورته کیدم

له ډېرو به ددې ستي ګوګل پوښتنه وکړم

دعا کوه اجمله که په پښو پورته کیدم

**اتڼ**

رود چې د سپین غره په ګریوانه کې اتڼ واچوه

زرکو له مستۍ په تور راغه کې اتڼ واچوه

سوز و د شپیلۍ څه د ښکاري د ټوپک غږ نه وو

شپون و چې هو سیو ورته غره کې اتڼ واچوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي رانه وژني موږ يوازې ورته وير کوو

خود مو قاتلانو دکور وره کې اتڼ واچوه

زه به ورته مستې غرنۍ ټپې شروع کړمه

بيا که تنکو ژړو په واده کې اتڼ واچوه

توره کور کې وه خو کباړيانو را نه يوړله

غلو راته دننه په کاله کې اتڼ واچوه

تږی شوم خومارشوم ګرانې څه شوي مازيګر شولو

ستا رندو يادونو مې په زړه کې اتڼ وا چوه

۱۵/۲۰/۱۳۷۷ رودات ننګرهار

## لونګين

خور مې که سينه باندې نيازبين مې کړه

ستا د دنګې غاړې لونګين مې کړه

خيال يمه په تورو کې مې ونغاړه

خوږ مې که، غزل يمه، رنګين مې کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غېږ کې مې ځای درکړ، گنا گار شومه

لوټ مې که، کابل مې که، ناورین مې کړه

نن مې په خوږو کتلو ولمانځه

شک یمه، گومان یمه، یقین مې کړه

خود به یې دیوانو سره گالمه

تا ویل ښاپېرۍ د چین ماچین مې کړه

ومې خندوه د سرو لمبو منځ کې

پورته مې کړه خال د ورین جبین مې کړه

لال یم خو دوخت گردو وهلي یم

ومې مښه ،توریمه تک سپین مې کړه

ماته سپېارې د مینې ولوله

راشه د سپیڅلي عشق په دین مې کړه

کېږده ما د زړه په پرهرونو کې

ځانگه مې کړه ، گل مې کړه، را شین مې کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاند مې کړه اشنا د ژوند چېنه یمه

شور مې که څپې د اباسین مې کړه

۱۱/۱/۱۳۷۷ جلال کوټ

## غر

ما پورې منگۍ چې د دلبر په ولو وخاندي

ټولې جینکۍ بیا د گودر په ولو وخاندي

خداې خبر چې ولې ستا تصویر مې مخکې مخکې شي

کله چې سپوږمۍ د پورې غر په ولو وخاندي

## د غزل لړ

څو که ورته لېه د زارو مې بار بار ونیوه

بیا هم پښتنه ښکلې خپل کړي انکار ونیوه

گوره که د سرو شونډو کنډول باندې یې ماته کړم

سر په سر روژه ما بې گنا، گناگار ونیوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ګوزار راوکړ د چینې اوبه یې خړې کړې

پورته لیونۍ شوه خدازده څه انتظار ونیوه

روح به مې په تپه تیاره ګور کې ورته و ناځي

لپه د د عا که مې اشنا په مزار ونیوه

نن مې شنه خالونه د غزل په لړ کې وپېیل

جوړ مې ترې امېل کړ پسرلي ته مې لار ونیوه

انده ! بیا دې کوم ښکلي د زړه تارونه وچیړل

بیا چې دې د سوز نغمه د روح په سیتار ونیوه

١٣٧٦/ ٤/٤ ننګرهار

## سیند

دښکلو وینو کې حالات مازیګري لمبوي

چې لا تر څو به مو په اور کې پسرلي لمبوي

لا یې په برخه په کلو کلو ژړا پرته ده

د اوښکو سیند کې به جانانه زندګي لمبوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي کې هسې هم له څېرمې ګناهنګار اوسیږي

پرېږده زاهده چې په میو کې ځواني لمبوي

ګودره ! بخت ته دې زما په دوه لاسي سلام دی

د کلي ټول ښکلي دې غېږه کې منګي لمبوي

په اننګو دې اوښکې خدای لپاره مه وچوه

یو لیونۍ پرې د سپیرو شونډو پترې لمبوي

۲۷/۱۲/۱۳۷٦ جلال اباد

## **تور**

ستا به هغه شپې یادېږي کنه؟

چې زما ورو ګنا هنګارو سترګو

ستا اننګو کې د رنګونو د کاروان سر لښکر

چې د ښکلا په نیلي سپور او بې پروا ځغلیده

په سترګو واوهه نظره یې که

لکه د مړاوي ګلاب ورژیده

او له اسه لاندې پرېووت

هغه مهال زما په ورو سترګو

ستا د ښایست د مړیني تور پورې شه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



★★★

خو اوس حيران يم دې ته

چې د فطرت د محکمې قضاوت

د پښتني وطن د مينې واکمن

د عشق د کلي د جرګو سپين ږيري

زما د معصوم او بې ګنا زړګوټي

د ځوانو هيلو ها بې وزله پېغله

د يو تنکي ارمان سپېڅلې غوټۍ

ستا ددې مړاوو اننګو وارث ته

بدو کې ولې سپاري ؟

په دې د څه شي تور دی !؟

## غرڅه

د خندا پېغله مې له شونډو ړنګه بنګه پرېوځي

لکه چې زرکه تکه سره د باز له چنګه پرېوځي

لا خو د ژوند سندرې ليکو د لمبو په پاڼو

نو له سرونو به مو هسکې شملې شنګه پرېوځي

زما غرور به يې په سترګو ګې نېزې ښخوي

که مې تنه ټپي ټپي شي له غورځنګه پرېوځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د هيلو دنگ نښتر چې پرې له بيخه باسي

متې يې پرې شه چې له دې تبرو کلنگه پرېوځي

ښکاري ! لينده دې پسې ښکته پورته مه ځغلوه

ماشوم غرڅه دی هسې نه چې له گړنگه پرېوځي

پښتنې سترگې يې سوال وي رانه ډېر څه پوښتي

د خيال په غېږ کې مې بې کوره يو ملنگه پرېوځي

د رود له ژبې غرنۍ سندرې څنگه اخلې؟

که د حجرو رباب مو مات شي له ترنگه پرېوځي

ډېر شازلمي به يې تر ملا کړي د افغان په نامه

د خوشال توره خو خدای مه کړه چې له شرنگه پريوځي

۱/۲/۱۳۳۷ جلال اباد

**ښښنه**

خوږمنو ټپي زړونو ته يې غلې غلې وايه

هلمنده ! له خپل شوره ورته جوړ د عشق غزل کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښښنه ځينې وغواړه د شنو خالونو غله

شينکي شينکي صبرونه د ( بزرگې څوکې ) ښکل کړه

## کېږدۍ

چې د ښکاري د ټوپک خوله کې گولۍ و ځنډېده

ايله مو اوس په شنډي توت کې مرغۍ و ځنډېده

د چا فقير دعـــــــــــــــــا مو کلي ته قبوله شوله

سږ غنم وړو کې بــــــــــــاران و ، ږلۍ و ځنډېده

لا دې د خال د دعوه گيرو کــــــــــډې نه دي تللي

خود مې په غاړه کې ټوپک گردنۍ و ځنــــــډيده

جوړ د نښترو په تالا ځوانۍ يې اوښکې توی کړې

چې د ( بزرگې څوکې ) سر کې سپوږمۍ و ځنډېده

د ټوپک ډزې د چاساندو غېږ کې ونيولې

له پورې کلي ورا رانغله ډولۍ و ځنډېده

دا ستا د زنې د شينکي خال شنې ورشو ته اشنا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په سترګو کې د اوښکو کيږدۍ و ځنډېده

سر يې د اوښ د غاړې زنګ کوځه کې کړنګ و نه کړ
ښايي رانغله په ايلبند کې کوچۍ وځنډېده

يو سترګي اند ته چا د کلي لويه لار څارله
يو لوپټه نن په دې پورې بلې و ځنډېده

۱۱/۹/۱۳۷۷ خوګياڼي

**غېږه**

کډه ترې د ډېرو ښکلو لاړه شه
شاړه شه، دا پورې کوځه شاړه شه

اى برچې خوړليه د غاټول ګله!
ته د چا تنکي د مرګي ژباړه شه

ما غوندې زړه سترې ته چې غېږه شې
زه د سيند څپه ته د سيند غاړه شه

څوک مې چې د ژوند سترګو کې اور کړي
ډوب مې په سيلاب د اوښکو واړه شه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژی

تنکي یتیم په تنکۍ ملا د ژوند وری پورته کړ

که کوچانۍ پېغلې په دواړو اوږو ژی پورته کړ

ها چې د درې منګیو بوج لاندې به نه کړېده

نن یې په څومره ناتوانۍ ها وړ منګی پورته کړ

## ګونګۍ

ټکه پرېوتې په ژوندون ټول کارو بار ګونګی دی

کلی مو ګونګ شو ، غر مو غلی دی او ښار ګونګی دی

چې منصوري عشق یې د حق په نارو ولمانځلو

دا نو بیا چا ویل چې رسۍ ګونګه ده ، دار ګونګی دی

د چا مین سوې ټپې ورسره غبرګې نه شوې

زموږ حجره کې له مودو مودو سیتار ګونګی دی

چې د چا سترګو ته په سترګو کې خبرې کوې

یا خو مئین دی یا خو خامخا اوښیار ګونګی دی

د میرو تږی د توتیانو سیل پرې نه کوزیږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلي رود له شوره ولوېده چينار ګونګی دی

اوښکې به اوښکو ته د کوم يرغل کيسه تېره کړي
زما ژبه پرې ده د توتي په شانې يار ګونګی دی

٤/٨/١٣٧٧ خوګيانې ، توتو

## توتي

کاش چې زه هم د ميرو تږی توتي وی
ستا وږه خوله چې د لوږ کمر چېنه شوه

چې د مينې پيغمبر مې په کې ځا ی کړ
د زړګي ښار مې يثرب وو مدينه شوه

هره دښته کربلا سيند مو فرات شو
هره پېغله د وطن مو سکينه شوه

خوار نظر مې تږی تږي پسې ګرځي
چې ترې ورکه سته د سترګو ايينه شوه

## زانې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا يې کتاره سره خپل راتګ ترلې ورته

کلونه تير شول ليونۍ وايي چې زانې راځي

د کوم ارمان سپيڅلي روح ته ترې ډالۍ جوړوي

د چا له شونډو ژړغونې دعاګانې راځي

## کلال

نور نو د چا زړه کې کرښې نه باسي

ستا د زنې خال له زوره ولويده

څه به د اوږدې غړۍ منګي جوړ کړي

لاړه مست کلال له زوره ولويده

ستا زړه خو د غوښې دې ظالمه نه!

خير دی که وبال له زوره ولويده

## مــــــــــــــزل

دا بيا مې ارادو لاس د ختېک نيولی دی

د نوي وخت مغل ته يې اټک نيولی دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروان به مې د هیلو ستا د زړه کابل ته رسي

رقیب که څو په لویه لار پاټک نیولی دی

افغان ، افغان همته وارخطا چې ګوره نه شي

اوس یون مې د بري په لار چټک نیولی دی

۱۳۷٤

## یــــــــــــاد

د خیال رمه مې بیا د کوم حسن په کښت ګډه ده

د اوښکو څپر کې مې غلې د روح شپون ویده دی

دلیــــــــــــلی یاده ! په ټپي سینه یې ورو وریږه

د بي وسۍ په سپېره دښته کې مجنون ویده دی

د خیبر خاورې ! پښتنې غزلې و ټوکوه

ستا په سینه کې د حمزه په شان پښتون ویده دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غنم رنگه

ورسره زړه مې کډه واخیستـــــــــــله
چې ښکلي ښکلي مې له څنګه ولاړل

د قحطۍ کاله اوس دې ســــم وخوړو
چې غنـــــــــم کم شول غنمرنګه و لاړل

## پـــــــرخه

نه څم خو خندا د مست ګودر مې وړي
غېږه کې مې واخلي مازیګر مې وړي

پرخه یم غاټوله! ستا په سیمـــــــــه یم
ومې نغاړه پټه مې کړه لمـــــر مې وړي

وامې خله ما ټول سترګو ته پورته کړه
تاو رانه لاسونه کـــــــــړه لښکر مې وړي

ښاخ ددنګ نښتر سیلاب اخیستی یم
څګ سره مې غاړه کړي په سر مې وړي

## لوپټه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېته چې دې ټپه دسهـــــــــــار نه ده

جنډه کړې دې زما په مــــــــــزار نه ده

لا ژوندی یم لا زخمي سندري وایم

لا ټپي ټپي ځواني مې په دار نه ده

په وړه خوله غرونه غرونه وعدې مه ږده

ستا ماشومه شان وعده د اتبار نه ده

لینده مه کشکوه! سترګې دې ړندې شه

دا دکورکلي کوتره د ښکار نه ده

زما زده یې د کیمیا بوټي انځور دی

خو دا خاوره لا زما په اختیار نه ده

چې تر لسو منګو دروند ژی، پر اوږو وړي

ده د دنګو غرونو پېغله د ښار نه ده

۱۳۷۵ لمریز ، کوزبیار خوګیاڼي

## نظر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره کوڅه کې ببر سر ولاړ دی

لیونی بیا د یار په در ولاړ دی

ستا پرنګي او یرغلګر نظرته

پښتون زړګی لکه خیبر ولاړ دی

منګی راواخله لا نا وخته نه دی

لا خو د غرو په څوکو لمر ولاړ دی

ماته خو اوس هم لا ګلبن ښکاریږي

لاخو د وران وطن کنډر ولاړ دی

د اورنیو توپانونو وړاندې

ستي کابل مې لکه غر ولاړ دی

**کمین**

راپریوځه ماهیپره د کابل سیند کې ځان ګډ کړه

خوشال شه په اټک کې مغل خیلو ته کمین شه

یا ښکلی شه په خپله یا په ښکلو کې ځان ورک کړه

زما که منې راشه د سپیڅلي عشق په دین شه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يه ژونده ! په زرکينو نرګسي ليمو مې کر کړې

ته ګل شه ځانګه، ځانګه او په سترګو کې يې شين شه

## غېږه

په غېږ کې د توپان يم چې مې کوم لورې ته وړي

دوخت يو خوار انسان يم چې مې کوم لورې ته وړي

زما د ژوند کيسې ته د پايلې ټکی مه ږده

تراوسه خو روان يم چې مې کوم لوري ته وړي

## سراب

تږې کوتره د اجل په سراب واوښتـــــــــــــــــــله

که پښتنه پيغله مو بيا پا په پنجاب واوښتله

بيا به نو لولم ستا د مستو مستو سترګو غزل

که دغه پاڼه مې د ژوند د کتاب واوښتـــــــــــله

معصومو هيلو مې چې ستا غېږې له دروړه پنا

لکه رمه له شپون نه تله په قصاب واوښتله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زکات د مینې نور په تا هم غنم رنګه اوړي

ښکلا خو ستا هم له ټاکلي نصاب واوښتله

تاوه یې نه کړه په سینه کې لمر ترې ولوټله

د پرخې پړه نو خامخا پر ګلاب واوښتله

مینې سندره کړه اجمله ! ساز کې ونغښتله

درخو نغمه شوه د ادم په رباب واوښـــــــتله

۲۱/۱۲/۱۳۷٦ جلال اباد

**اوښکه**

زوړند چې په پوزه کې نتکۍ ساتي

داسي به په شونډو کې سلګۍ ساتي

ژوند غواړي (( پرهره !)) الوته غواړي

څو به په سندرو کې هيلۍ ساتي

دا غرونه کمرې هم نغمې غواړي

شپون چې شوي نو څنګ کې به شپيلۍ ساتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکه ده ، په پیڅکه کې یې ونغاړه

دا به زما تا سره ډالۍ ساتي

انده ! که په دې کلي کې شپې غواړې

تل به د ارمان ژبه ګونګۍ ساتي

۳۱۷۷ دزمري دویمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښار

لمبې شوې بلې د ګوګل په ښار کې

چې خال يې ورک شو د وربل په ښار کې

څه ليونی يم چې د مينې په نوم

مرګ پسې ګرځم د اجل په ښار کې

منې! دا ستا په دې بدنامه نامه

پټ پټ تاوېږم لکه غل په ښارکې

ولاړ حيران په څلور لارې د ژوند

لکه چې ورک کړې څوک منزل په ښار کې

داسې لوګې مې له ارمانه خيژي

لکه چې دود شي د کابل په ښار کې

۱۳۷۵ د ورې دولسمه

## تصوير

يو تصوير مې جوړولو ورته ناست وم

د چا ياد مې خندولو ورته ناست وم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو يادګار ستا د نادودو مې جانانه!

په دې مات زړګي تراشلو ورته ناست وم

## وريځ

لکه چې وريځو پورې غر ونيوه

داسې مې ستا غمو ځيګر ونيوه

چې مو کېسې دېرو حجرو کې وشوې

جانانه اوس نو مينې سر ونيوه

## ليونی

څو به د شپو په تنابو کې زانګې

ژوند تر څو به په تيارو کې زانګې

حسنه! منم خپله مغروره نه يې

خو کبرجنو اننګو کې زانګې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسه! خود پرې لولپه شوي وسوي

لکه لوګې تل په لمبو کې زانګې

زړګيه! دې کې ګنا ماته څه ده

ته يې په خپله په بڼو کې زانګې

اجمله خود دې ليونۍ بولي اوس

پر لار روان د خيال ټالو کې زانګې

۱۳۷۵ د غوايه اتمه

**خـــــــــــوب**

راته يې ښکلي يادول ، يادول

يوليوني غزل ته خوب نه ورته

بيګا يې ټوله شپه سندرې ويلې

خدازده په څه بلبل ته خوب نه ورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوکـــــــــــــــه

ها لوی غل د نښترو مې په شوکه کې نیولی

ښکاره مې د(( بزرګې څوکې )) څوکه کې نیولی

د سپین کاغذ په پاڼو قلم سرې کرښې راکاږي

د چا د وینو څاڅکې یې په نوکه کې نیولی

## مساپره

نه ځم خو اشنا د چا خاطر ته ځم

پیر له د سندرو خړ خیبر ته ځم

شم چې د صبرونو په نڅا کې ورک

خیال د کوم شاعر یم پورې غر ته ځم

وریت چې په انګار شوم ، شین منګی شومه

غېږ کې د ماشوم په شان ګودر ته ځم

غاړه را غاټوله مساپره یم

پرخه یم سهار چې شي نو لمر ته ځم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هيلۍ

ځنګه وزر به پر هغې فضا هيلۍ ووهي

چيرې چې ښکلي د کابل د مرګ سلګۍ ووهي

ستا کو چاني يادونو خدازده کېږه چيرته وړي

کله به بيا زما د زړه دشت کې کېږدۍ ووهي

شپونکی شهيد دی ، توله ماته، نغمو ار اخيستی

د رغو زرکو ته به څوک خوږه شپيلۍ ووهي

د خندا ځل مې پانې پانې شي په وينو شونډو

لکه تنکي کوکنار ګلونو کې ږلۍ ووهي

د خيال ورشو کې مې نن بيا څري د ښکلو رمي

زما زړګی شي چات شپول چاته کېږدۍ ووهي

که مېوندي ارادې بيا زلمو کې و غزېدې

نو د غيرت چيغې به ډېرې ملالۍ ووهي

مه شلوه مراندې مې د زړه د خيمې يه جانانه!!!

نه چې ډېوه مې د ارمان د غم سيلۍ ووهي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٣٧٦ کب ٤

## باور

يارانو څومره مو دا خپل زړګوټی سپين ساتلی

چې مو د وخت په داړه مارو هم يقين ساتلی

خدايه توبه چې نن هغه ستا د کعبې قسم خور

په جار نارې کړې راته وايې چې ما دين ساتلی

خير دی که تور ګرد د بارودو دې پر مخ ورک کړی

موږ تصور کې خو تل خال ستا په جبين ساتلی

سپرليه ستا او ستا د رنګو احسان په څه ومنو

چې چاپيريال مو خپل په وينو تل رنګين ساتلی

د وخت نادودو که هر چو را ته تراشلې زړګی

مونږه بيا هم دا خپل تراشلی زړه سنګين ساتلی

ترخو حالاتو که ښکلا له ټول مالت نه وړې

خو ما په زړه کې د ارمان کورګی حسين ساتلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۷۵ مرغومی ۸

## غرنــــــــــــۍ

په کې د مستې غرنۍ مینې کیسه پرېوته

د ډبرلیک غوندې مې سترګو کې پخه پرېوته

ښکاري! همداسې د هوس له هسکه لاندې پرېوځې

لکه له غره نه چې هوسۍ ټپي سینه پرېوته

د کوم تیمور د کوم چنګیز وحشي لښکر پرې تېر شه

کنډر کنډر مې د ټپي زړه غلغله پرېوته

لکه شمشاد، لکه تورغر، لکه بزرګه څوکه

زما له هسکې کوپړۍ څه هسکه شمله پرېوته

لکه ارمان ، لکه لمبه ، لکه د هیلو غوټۍ

د باز له سرې پنجې چې زرګه تکه سره پرېوته

لکه ټپه ، لکه سندره، لکه غږ د شپیلۍ

راته په خوله د چا غزل غزل نامه پرېوته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیڅکه

ما خو مې تنکۍ مینه د سوال پیڅکه کې غوټه کړه

ستا ښکلا مې ټوله د وبال پیڅکه کې غوته کړه

نور به زوروره ! ستا د زړه تناکې ماتې وي

اوس چې مې خندا د ویر د تال پیڅکه کې غوټه کړه

دا چې د ماشوم ذهن په غېږ کې مې لمبې شیندي

دا سپرغۍ خو تا زما د خیال پیڅکه کې غوټه کړه

هلته چې قاضي د قسمت ویش د نصیبو کاوه

خدازده زموږ سوله یې د کوم کال پیڅکه کې غوټه کړه

هلته دې زما په ژوندون نوم د انتظار کېښود

دا راته وعده چې د وصال پیڅکه کې غوټه کړه

خپله مې جانانه توروشپو کې د ژوند واړول

ماچې زندګي ستا د تور خال پیڅکه کې غوټه کړه

۱۳۷٦ /۱۰ /۱۲ خوګیاڼي کوزبیار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملنګ جان سپیڅلې اروا ته:

وخته! مین دې د ښکلا وژلی

تا د پښتو د بڼ بورا وژلی

د چا خندا چې ټول مالت ښوراوه

یو لیونی دې بې ګنا وژلی

چې سپیده داغ کې یې سندرې ویلې

هغه بلبل مرګیه تا وژلی

زما د ډېر عمر بدل دی ورته

دې وخت یو ښکلی ډېر پخوا وژلی

هغه همدې کوڅو کې خیر ټولاوه

همدې کوڅو هغه ګدا وژلی

اوښتې ډېرې سپیرې سترګې ورته

په وړو سترګو دې دنیا وژلی

ملنګه تا چې له سندرو بس کړل

سوز د چاربیتې خدازده چا وژلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لاسونه

چا زورورو مو کلک ایښي دي په زړه لاسونه

داسې چې غورزوو هر خوا ساړه ساړه لاسونه

پښتون احساس مې رانه چا هم په زور وا نه خیسته

ربه ! که بند په بند مې پرې شول پښتانه لاسونه

زموږ له شونډو به د ژوند سندرې څنګه اخلې

جانانه !چا ایښي بلبلو ته په خوله لاسونه

افغان ماشوم شوم یاره ستا غني غني سترګو ته

ورته اوږده مې کړل د سوال واړه واړه لاسونه

ښايي له ژوند سره د مینه نوره پاتې نه وه

اجمله داسې چې د ښکلو پسې وړه لاسونه

۱/۲/۱۳٦۷ خوګیانې – کوزبیار

## مات منګی

خانده راخانده زنـــــــــــدګي تیروه

خیر دی اشنا پر ځان سختي تیروه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته اوس څوک د چا په وير کې ژاړي

هر څه دې غلي په زړگـــــــــــــــي تيروه

چې دې نادودې ليـــــــــدې خانده ورته

عمر په شان د ليـــــــــــــــــوني تيروه

د درديدلي ژوند په دې پړاو کې

راسره خير دی بي وسي تيروه

بلبله ژاړه د گل وچ ډنډر ته

ورته کيسه د ورک سپرلي تيروه

کله راځه د نازولي ياده!

را ته تش لاس خو په تندي تيروه

اجمله ولاړ شه هغه وران گودر ته

شپې په مزار د مات منگي تيروه

## ميوند

غيږ له دې بيا ځولۍ ، ځولۍ د رباب ترنگه راغلم

لکه افغان زلمی همدا ساعت له جنگه راغلم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې خولې ستومانه روح مې په ټپو دمه کړه

پردي مزدور غوندې له بیل او له کلنګه راغلم

خور ریګستان شه ستړی ، ستړی مې په غېږ کې واخله

د هریرود غوندې ستومان له یکاولنګه راغلم

ویده کبان مې د سندرو په ټال وزنګول

د سیند څپه شوم د غره غېږ ته ړنګه بنګه راغلم

د چا ملالې د تنکي ارمان سندره شومه

میوندې غږ ووم د رڼو تورو له شرنګه راغلم

**لمبې**

موږ چې د ښکلو کاڼو زړو کې زندګي تیروو

څه په هنر یې په لیمو کې زندګي تیروو

تنها حالات مو د سرو شونډو نه خندا شوکوي

کنه د حسن په ورشو کې زندګي تیروو

لکه د خال به رنګونه څنګه نه توریږي

چې په لمبو د اننګو کې زندګي تیروو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حالات ښه شوه بیا د سپینې خولې غوښتنه کوه

اوس خو د وینو غرغنډو کې زندگي تیروو

ته جوړ د سترگو د خندا په انجام نه پوهېږې؟

اخر مالت د پښتنو کې زندگي تیروو

٦، لړم ، ١٣٧٦ خوگیا نېي

## ماښام

که د تیارو زیری ماښام راکوي

راته شفق د میو جام راکوي

په خونړي گودر ټوټې د منگې

د لیونۍ د مرگ پیغام راکوي

لا خو مې راز د مینې پټ ساتلی

دوې نو په څه نوم د بدنام راکوي

سره له عقله مې صحرا ته بیایي

مینه څه بل رنگه مقام راکوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې افغانانو اخر شرم نه دی

د غلامۍ پیغور غلام راکوي

۱۳۷۵ جلال کوټ

## دسمال

اخر دا څوک دی چې زموږ د چم جمال اخلي

د چا د تورسترګو رنګ د چا شین خال اخلي

یو خو به وي چې دغه دروند پیټی یې په ولو باروي !؟

څوک خو به خامخا زموږ د غرو وبال اخلي

د هغې پیغلې د بې وسه سترګو اوښکه شوم

چې زورور یې د ټوپک په زور دسمال اخلي

د سکندر غوندې مې سر هیچا ته نه ټیټیده

عشق زورور دی له لاسو مې توره ډال اخلي

خدایه مهدي دې له دریم اسمان راولیږه نور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



باج د سرو رانه د ژوند په نوم دجال اخلي

۱۳۷۵ خوګیاڼي

## پور

نن د کوم ښکلي ګلالي زلمي د مرګ په پور کې
یو ګلالۍ پېغله زموږ له کلي بدو کې وړي

خدایه ! له هسکه زموږ برخه شول د جبر کاڼي
لکه بړلۍ را نه تنکي غنم په وږو کې وړي

پرهر ټټر یمه په ژوند مې ډګر نه دی پرېښی
ها چې له جنګه تښتي غشي خو په ډډو کې وړي

لکه مرغومی تل د اوښ په شا ټالۍ وهمه
د کوچۍ مینه یم هلمند ته مې په کډو کې وړي

## قیامت

چې ښکلي ګورم خپلې شونډې خورمه
را کې دا یو خراب عادت پاتې دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د جبین په سر خو ډېر واوښتل

خو خلک وایي لا قیامت پاتې دی

## درود

درود چې مې د عشق د پیغمبر په شونډو پریوته

څاڅکی می جانانه د کو ثر په شونډو پرېوته

ټول غزل غزل شوم ترنم شومه سندره شوم

ښایي چې مې ګرد د خړ خیبر په شونډو پرېوته

زوړ د بل تنکي د جنازې مې ژبه ګونګه کړه

کله مې چې نوم د خوږ اختر په شونډو پرېووته

غږ وکړه څاروانه ! قافلې ته چې په ورو درومې

ګورې نه چې ترې مساپر په شونډو پرېوته

نوم دې و، خو مست و څه سرور خو په کې نغښتی و

جام غوندې مې ګرانه سر په سر په شونډو پرېوته

وینې وې پاړ پاړ وې خو رنګو په کې ټالی خوړې

اور شو شو چې مې دا ترې نظر په شونډو پرېوته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه! د چا سوالګرې بې اسرې وږې ماشومې وو

درد شو څړیکه څړیکه د (( پرهر ) په شونډیو پرېوته

ورکه شوه ښکلا د طبیعت په رنګینیو کې

پړک چې د خندا د خوږ دلبر په شونډو پرېوته

۱۳۷۷، مرغومی ، ۱٤ جلال اباد

## ترنم

ستا د ښکلا لمبې ځوانۍ که زور اخیستې

ماهم پر ځان باندې د ټول کلي پېغور اخیستې

ها چې زموږ د کلي ترخې ترې هم مخ پټوي

هغه زموږ د کلي منځ کې ځان ته کور اخیستی

د یکه زار په مستو مستو ترانو مینه

سندرې وسوي د شپانه ترنم اور اخیستی

چې یې ډالۍ ډالۍ مرګي زموږ کابل لیږل

د مرګي وېرې اوس تهران سره لاهور اخیستی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا په سترګو د وینو پردې خوځي اوړي

سترګو مې ستا له سترګو ګرانې سور انځور اخیستی

۱٤، لړم ، ۱۳ ۷٦ جلال اباد

## مروارید

هدیرې ته جنازه د کوم شهید وړي

خدایه بیابه څوک د عشق د پیر مرید وړي

د کابل د اضعر اه ! عرش ته روان دی

لېږې لېږې شکایت به له یزید وړي

د جنت حورې امیل ورته ولاړې

ورته سره شالونه ځان سره ناهید وړي

سوداګر دي د بارودو په بدل کې

د زړګي له بدخشان مې مروارید وړي

## مرګی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکليه ! لږ و خانده سپرلی راوله

لږ په نڅا مې دا زړګی راوله

د خيال بلبله په هوا شه پسې

ياد د خواږه جانان موسکی راوله

کلاله رنګ مې د زړه وينې ورکړه

د يار منګی مې ګلالی راوله

زما د سترې سترې ژوند کتاب کې

يو باب (( د خپل ځان خونړی )) راوله

خاونده ياپې زموږ له کلي ورک کړه

يا دې پرديو ته مرګی راوله

۳۰ تله ۱۳۷٦ جلال اباد

## د سندرو ژبه

لکه چې يوه وي د اوږدو اوږدو لښکرو ژبه

خدايه يوه مې کړې د لارې د مـــــلګرو ژبه

ورته به يې څه د ځواني مرګې ځوانۍ ساندې ويلې

ښه ده چې چا ته ياده نه ده د نښترو ژبه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شین توتي د ستونې ټپ د توپ بدغږ وواهه

ځکه يې نه ګرځي اوس هسې په خبرو ژبه

که مې دې درد ته د غزلو پټۍ جوړې نه کړې

رب مې دې وچه کړي په خوله کې د خبرو ژبه

کلونه وشول چې زموږ پر بام غومبر نه وهي

خاونده ګونګه شوه زمونږه د کوترو ژبه

پردی وطن پردی خبرې خدايه چيرې ولاړشي

چاته به ياده وي د سترو مســـــــــــــاپرو ژبه

**پلی**

راشي په کابل زړه کې مې پلی شي

خاندي د بارودو دود کې ښکلی شي

ميشت مې ځاې پرځاې د زړه دره کې شي

عشق له خپل واړه کورګي نه کلی شي

زه چې ورته پرخه پرخه وژاړم

دا دکمر ګل شي جل وهلی شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور غونډې مې سترګې پرې روښانه وي

کله مې له زړه نه اوس وتلی شي

هله به په سر هسکه شمله ورمه

داچې ټولو ښکلو کې ښاغلی شي

ما هم د ویر غېږې ته راپورته کړي

اوښکه شي ارمان شي غمځپلی شي

## زیړ مازیګر

اوس هم شمله د هندوکش هماسې دنګه ښکاري

خو پښتنه کیږدۍ یې غېږ کې ړنګه بنګه ښکاري

د چا غرور چې تاویزو او کوډو نه ماتوه

هغه د شل منګیو میره اوس ملنګه ښکاري

مورې یې په سترګو کې نړی نړی ښایست لټوو

ښکلو ته هسې زمورږ د زړونو دونیا تنګه ښکاري

د قاف دیوانو یې پر مخ وحشي نوکارې کښلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حرمونو ښاپیرۍ مو خود بدرنګه ښکاري

چې مې رنځورې هیلې وژني د طبیب په ګوتو
زما ددې عصر دښمن خو ډېر بې ننګه ښکاري

خړه شمله د سور سالو تر څنګه وبرېښیده
وایه اجمله ! چې اوس زیړ مازیګر څنګه ښکاري

## بغدادۍ کوتره

خدای بښلي اسحاق ننګیال ته:

د مینې تور له رنګه تور کړم اوس مې تور خوښیږي
ستا له نړۍ نړۍ ښایست نه مې تور خال واخیسته

زموږ د یثرب خورما به نور د چا په غږ و ناځي
وخت خو زموږ د ړنګ مسجد ځینې بلال واخیسته

د مرګ قاصد تیر شو په ګواښ زموږ له ړنګ ګودره
د شعر د پېغلې له وربل یې د ننګ شال واخیسته

خلکو ویل د اموخته کوترو ښکار ګنا ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چا زموږ د بغدادي کوتر وبال واخیسته

د خندا پېغله مې په شونډو هسې نه ژړېږي
وچو پاڼو یې د ټوپک په زور دسمال واخیسته

نور به د خیال ریګزارو دښتو کې پرې ځنګه زغلي
د مرګ ډېرې یې د سپین اس د پښو نال واخیسته

## شپول

څوک مې په غېږه کې راټول ونېوه
که مې له لمره چاپیر شپول ونېوه

خدایه له سترګو یې سرور ورېده
ورته مې خود د زړه کنډول ونېوه

دا خو د نور له غېږ خالي لاس راغلم
چې تور ماښام ته مې کچکول ونیوه

ستا د خندا څومره یاغي لښکر وو
د زړه وطن یې رانه ټول ونېوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ! باران کړه کنه ورژېده

تندي د غره داړخ غاټول ونېوه

څه شول ، زمورِ د اتڼ ژبې څه شول

چا غنیمت کې رانه ډول ونېوه

۸ ، زمری ، ۱۳۷۷ خوګیانې کنډی

## لـــــــو

لو کې د لوګرو په ملا ماته شوه

لخته وه ملګرو په ملا ماته شوه

ړنګه شوه ها دنګه ځواني ړنګه شوه

چوپ شوه له سندرو په ملا ماته شوه

ښایي شپون په زیر کې نغمه ونېوه

ځانګه د ګورګورو په ملا ماته شوه

خدایه چې ترې شین ګړی ټوټې نه شي

لویږي په ډبرو په ملا ماته شوه

زوره ستا د تبر فولادي څوکه

زمونږه د نښترو په ملا ماته شوه

ستا د تومت توره که تیره وه خو

زمورِ د عشق د زغرو په ملا ماته شوه

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**